ليکنه: اسير مشوانی

## فسبوک کې له بندېزونو ځان څنګه خوندي وساتو؟

د جمهوريت له سقوط وروسته د فسبوک ګڼ افغان کاروونکي شکايت کوي چې اکاونټونه يې له بندېزونو سره مخ کيږي او يا هم ډيسيبل کيږي.

طالبان لا هم په رسميت نه دي پېژندل شوي او د پخوا په څېر د يوې تروريستي ډلې په صفت پېژندل کيږي نو فسبوک د خپلې پاليسۍ مطابق د دوی فعاليتونو خپرولو ته اجازه نه ورکوي.

راځم اصلي خبرې ته، په فسبوک کې څه خپاره کړو او څه نه چې له بنديزونو سره مخ نه شو؟

لومړی: د طالب چارواکو نومونه هيڅکله مه خپروئ، خصوصا امير المؤمنين، سراج الدين حقاني، انس حقاني، مولوي يعقوب، جنرال مبين....... او داسې نور.

دوهم: د طالبانو عکسونه. خصوصا هغه چې پګړۍ او ږيره کې وي.

که چرته څوک طالب هم نه وي او د پګړۍ، ږيرې عکس يې خپور شي، ښايي بيا هم له بندېز سره مخ شی. ځکه يادې ادارې ته پته نه لګي چې دغه کس طالب دی که عام وګړی.

درېيم: د طالبانو سپين بيرغ، دا که تاسې په هر ډول نيت خپروئ خو فسبوک يې د خپرولو اجازه نه درکوي.

څلورم: بوږنوونکي انځورونه، په وينو ککړ، ژور زخم لرونکي او هر هغه عکس چې د خلکو روان ته صدمه رسوي.

پنځم: د ماشومانو لوڅ عکسونه خپرول هم تاسې له بندېز سره مخ کولی شي.

شپږم: د وسلو انځورونه. که د وسلو انځورونه خپروئ او يا هم تاسې ورسره عکس اخيستلی وي، نشرول يې د فسبوک پاليسۍ خلاف دي.

اووم: چا ته اخطار مه ورکوئ!

اتم: په پوسټونو يا کمنټونو کې چا ته سپک الفاظ کارول، په ډېرې بخښنې لکه: سپکه! رذيله! احمقه! بېناموسه او داسې نورې ګڼې کليمې.

نهم: د کاپي رايټ خيال نه ساتل، خصوصا د ويريفايي پاڼو څخه چې کوم مواد راخلئ د هغوی ذکر ورسره کوئ او که ډېره اړتيا نه وه، مه يې خپروئ.

لسم: ناسم معلومات خپرول، خصوصا د کورونا او نورو موضوعاتو په اړه.

**نوټ:** دا ټول کارونه بايد پوسټونو، کمنټونو او آن پيغامونو کې ونشي.

او په ويډيوګانو کې هم بايد پورته ټکو ته پاملرنه وشي.

**له بندېزونو څخه د ځان ساتلو لپاره:**

• د وزیرانو او ویاندویانو د نومونو پر ځای مستقیما د وزارتونو او ادارو نوم لیکئ!

• امیر المومنین ته مشرتابه لیکئ.

• اسلامي امارت ته حاکم نظام لیکئ.

**ځینې نورې اړینې سپارښتنې:**

• اکاونټ ته مو قوي پاسورډ ورکړئ چې توري، اعداد او علامې ولري لکه watan56543@#$@

• چا چې درته لنکونه رالېږل مه یې خلاصوئ!

• د ګیم کولو او دې ورته نور لنکونه مه خلاصوئ!

• د خپل مبایل/ کمپیوټر څخه پرته بل ځای کې اکاونټ مه خلاصوئ او که خلاص مو کړ بېرته یې خامخا بندوئ.

• داسې جیمیل یا شمېره پکې ورکړئ چې دواړه تاسو سره خلاص وي، که اکاونټ مو هیک شي یا درڅخه پاسورډ هېر شي نو بېرته یې په اسانۍ پیدا کولی شئ.